**بسم الله الرحمن الرحیم**

# د سعودي او امریکا اړیکه؛ د کورونا ویروس تر پوښښ لاندې د تېلو جګړه

**(ژباړه)**

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته امریکا د نړیوال نظم د جوړېدو په لټه کې شوه. امریکا له سیاسي اړخه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا او ملاتړي هېوادونه جوړ کړل او له اقتصادي پلوه یې بریټون‌وودزو، د پیسو نړیوال صندوق او نړیوال بانک جوړ کړ. وروسته یې شوروي اتحاد ته قناعت ورکړ چې فرانسه او انګلیس یې له مستعمرو څخه لېرې کړي، تر څو د امریکا مصلحتونه تامین کړي او روسیه په ختیځه اورپا پورې منحصره شي.

وروسته امریکا دې پایلې ته ورسېده چې په ۱۹۷۱م کال کې د بریټون‌وودز له تړون څخه ووځي او د سرو زرو پر ځای ډالر نړیواله پیسه وټاکي؛ څو د تېلو سوداګري د ډالر پر اساس په خپل واک کې کړي. وروسته د امریکا د هغه وخت ولسمشر «ریګن» په ۱۹۷۱ م کال کې ډالر له ټولو بندیزونو ازاد پرېښود، تر دې چې د امریکا د شتمنۍ کچې د اقتصادي ودې په پرتله یې څو برابره ډېره وده وکړه. د دغه هېواد اقتصادي ودې له ۳ بیا تر ۸ فیصده وده درلوده او نغدې پیسې یې٪۵ ډېرې شوې؛ چې د اقتصادي ودې او شتمنۍ تر منځ یې دا تناسب نه و.

له یوه لوري له سرو زرو څخه د ډالر د بېلېدو پایله او له بل لوري له اقتصادي ودې څخه ازادي، د وهمي اقتصاد د منځته راتګ لامل شوه، چې د مال په مقابل کې نه کوم جنس شته، نه کوم تولید او نه هم خدمتونه. امریکا د یادو کړنو په ترسره کېدو سره نړۍ د پیسو، پانګوالۍ او نړیوالې سوداګرۍ لور ته سوق کړه. ټول هېوادونه د یادې طرحې منلو ته اړ کوي، څو سوداګري د ډالر پر اساس شي، په ځانګړې ډول انرژي او تېل. امریکا له ټولو هغو راکړو ورکړو څخه ګټه ترلاسه کوي چې د ډالر پر اساس وي. امریکا له خپل نفوذ ګټه واخیسته، تر دې چې د اوپک سازمان او ارامکو شرکت، چې سعودي یې غړی دی، پخپله ګټه وکاروي او د تېلو له نړیوال بازار څخه وکولی شي بیې، عرضه او غوښتنې کنټرول کړي.

د کورونا ویروس د خپرېدو په بحران کې د تېلو غوښتنه راکمه شوه، په ځانګړې ډول د چین له لوري، چې د نړۍ کابو ٪۲۰ فیصده تېل اخلي. امریکا او د هغه مزدور سعودي هڅه وکړه، څو د تېلو بیه د هغه په راټیټېدو سره وساتي. روسیې، چې د اوپک سازمان غړې نه ده، د تېلو د تولید کمېدل یې رد کړل او په دې باور ده چې

د ټيټېدو پر وړاندې يې د تېلو ډېر توليد د اقتصادي زيان مخه نيسي. امريکا او سعودي په دې برخه کې يو له بل سره تړونونه لري او د ټرمپ په خبره، چې دی د سعودي او روسيې تر منځ د راپيدا شوو شخړو د حل غوښتونکی دی. امريکا غواړي چې د توليد په کمېدو سره د تېلو بيه لوړه شي او درونډ بار يې پر روسيه ور ولوېږي. روسيې تر دې وړاندې اعلان کړی و چې د سعودي ډېر توليد هغې ته زيان نه رسوي. بلخوا د روسيې د انرژۍ وزير د تېلو د بيې د ناوړه کېدو د مخنيوي غوښتنه وکړه.

پر دې سربېره، رسنيو داسې خبر خپور کړی چې امريکا هڅه کوي، څو د دوی او سعودي ترمنځ د تېلو يو تړون رامنځته شي او د اوپک سازمان نور پای ته ورسوي. امريکا په خپلواک ډول د سعودي له رهبرۍ پرته دا څه تر لاسه کوي. کېدای شي امريکا له دغه فرصت څخه په ګټې اخيستنې د تېلو په اړه لاندې ستراتيژيکې کړنې رامنځته کړي:

۱. له امريکا سره د اړيکو ساتلو او روغې جوړې په اړه پر سعودي عربستان د ولي عهد محمد بن سلمان بشپړه واکمني.

۲. په بېساري ډول د تېلو د بيو خرابول، چې همدا اوس بحراني دي او د تېلو بازار له رکود ډاروي، څو د تېلو نور هېوادونه د امريکا د خوښې وړ له تړون سره يوځای کېدو ته چمتو کړي.

۳. د نړۍ بوختيا او اوسنۍ ګډوډۍ: په ځانګړي ډول اروپايي هېوادونه کېدای شي له کورونا ويروس څخه دا شونتيا رامنځته کوي چې هر ډول سياسي او اقتصادي عمل او معامله ومني.

هغه پلان چې امريکا يې د تر سره کېدو هڅه کوي، يادونه مو يې وکړه. په ۱۹۷۳م کال کې چې د مصر او سوريې تر منځ جګړه وشوه او له يهودو سره هم ترسره شوه، له ملک فيصل سره يې همداسې عمل ترسره کړ. کله چې فيصل اروپايي هېواونو ته د لنډمهال لپاره د تېلو د جريان کمېدو هوډ وکړ، بيه يې لوړه شوه. هغه څه چې امريکا له سرو زرو څخه د ډالرو د بېلېدو لپاره استخدام کړل، دا د دې لامل شول چې د تېلو سوداګري په ډالرو شي. په دغه پړاو کې غشی پر ځای ونه لګېد، د بيې لوړېدو پر ځای، سرچپه بيې راټيټې شوې او صادرونکي هېوادونه يې دې ته اړ کړل چې د ګټې تر لاسه کېدو لپاره په هره بيه چې وي، معامله ترسره کړي.

حقيقت دا دی چې نړيوال حالت د ټرمپ د غوښتنې او سياست سرچپه روان دی. کېدای شي د تېلو په نړۍ کې د پام وړ بدلونونه رامنځته نه شي. کورونا ويروس د مالي او اقتصادي نظامونو د پاشل کېدو لامل کېږي. څنګه چې د نړيوال نظم د بدلون په اړه نړيوالو واکمنانو څه ويلي دي. په بېساري ډول د تېلو د غوښتنې

کمېدل، هغه که د چنايي شرکتونو د بندېدو له امله وي او يا په نړۍ کې د لېږد رالېږد وسايلو درېدو او د انرژۍ د لږ مصرف له کبله وي. داسې اټکل کېږي چې د خپل زيان د پوره کېدو لپاره د تېلو بيې لوړې کړي.

هغه تېل چې ټرمپ او د سعودي ولي عهد پخپله ولکه کې کړي، د اسلامي امت ملکيت دی. جايزه نه ده چې د اوسنيو نظامونو د ملاتړ په هدف په مختلفو بڼو وکارول شي. اوسنی واکمن نظام يو استبدادي او ظالم نظام دی، له مسلمانانو او اسلام سره قوي دښمني لري او اوسني نظام د اسلام پر وړاندې ظالمانه جګړه اعلان کړې ده. اسلام تل هڅه کوي، چې انسانان له تيارو وژغوري او د روښنايۍ لورته يې بوځي او له حکومت څخه يې لېرې کړي. بايد نړۍ د اوسني واکمن نظام له شر څخه په امن کې شي. په هره بڼه چې وي، له اوسني نظام سره مرسته روا نه ده او اړتيا ده چې نړۍ د اوسني ناوړه نظام له شر څخه وژغورل شي.

**له الرايه جريدې څخه**

**ليکوال: دکتور محمد جيلاني**

**ژباړه: بهير «وياړ»**